ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصـــادي او ټولنيـــزو مسايلـــو په بـــرخـه کې
د رياست الـــوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځـنۍ

ګڼــه: ۱۵ | مسلسل نمبر: ۱۵۳

پنجشنبه، ربیع الآخر ۲۵، ۱۴۴۸هـ.ق کال

# اباديِ

## پنځلـــس ورځـــنۍ

### محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابوحنيفه (رح) پنځم عمومي او نړيوال نندارتون پرانيست



۲مه صفحه

### له ټيوليوونکو او نړيوالو موسسو سره د پوهنې وزارت لومړيتوبونه شريک شول



۳مه صفحه

### فرصت‌های سرمایه‌گذاری در بخش تعلیم و تحصیلات عالی



۴مه صفحه



## سرلیکنه

د واخان ۱۲۱ کيلومتره اوږد ترانزيټي سړک، د هواړولو او جغل اچونې چارې بشـــپړې او د ميزان په ۱۲مه نېټه ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. دغه سړک د بروغيل له سيمې تر صفري نقطې غځېدلی او د اسلامي امارت د مســـوولينو په وينا، افغانستان به له دې لارې د منځنۍ اســـيا له هېوادونو او نړيوالو بازارونو سره ونښلول شي. افغانستان چې سمندر ته مستقيمه لار نه لري، تر ډېره بريده د خپلو ګاونډيـــو هېوادونو له ترانزيټي لارو څخه ګټه پورته کوي او که له هر ګاونډي هېواد سره يې کومه ســـياسي ســـتونزه رامنځته شي، نو دا بيا نيغ په نيغه د هېواد پر اقتصاد اغېزه کوي. د واخان دهليز د افغانستان له پاره يوه ترانزيټي او ترانســـپورټي لار نه ده، بلکې دا لاره د هېواد د اقتصادي تنوع او ســـيمه‌ييز اتصال يوه مهم کړکۍ ده. د واخان له لارې افغانستان نه يوازې د چين بازارونو ته بلکې د منځنۍ اسيا هېوادونو له لارې د نړۍ له نورو هېوادونو سره نښلول کيږي. د واخان لارې يوه بله ستره اقتصادي ګټه داده چې افغانستان به د دې لارې پرمټ وکولای شي چې د خپلو صادراتو او وارداتو له پاره يوه بله خو مهمه او ارزښـــتناکه لار پيدا کړي. له دې لارې به افغان سوداګر پر دې وتوانيږي چې د چين له توليـــدي بازار سره ونـــښلي او لـــه دې لارې خپل سوداګريز توکي لکه وچې او تازه مېوې، زعفران، غالۍ، معدني محصولات او نور صـــادراتي توکي د ياد هېواد لوی بازار ته په اســـانۍ او په کم لګښت ورسوي. د دې ترڅنګ د واخان لارې په جوړېـــدو سره به نه يوازې د بدخشان د اوسيدونکو ترانسپورټي ستونزې هوارې شي، بلکـــې د دې لارې پـــه فعالېدو سره به د دې ســـيمې اقتصادي حرکت هم ګړندی شي. سيمه ييز توليدات، مالداري، کرنه، لاسي صنايع او سياحت به وده وکړي. په لنډ ډول ويلای شـــو چـــې د واخان لارې جوړېدل د افغانستان له پاره په اقتصادي لحاظ زيات اهميت لري. د دې لارې پـــه جوړېدو به افغانســـتان له مشـــخصو مسيرونو څخه بيا له څو مسيرونو او لارو څخه ګټه پورته کړي. ځکه د يوه هېواد له پاره د يوې يا څو مشـــخصو لارو پر ځای له بېلا بېلو لارو ګټه اخيستل د هغه هېواد اقتصادي خپلواکي په ډاګـــه کوي. د واخان لار د دې جوګه ده چې د افغانستان له پاره د اقتصادي خپلواکۍ په ترلاسه کولو کې مهمه ونډه ولري. اسلامي امارت د واخان دهليز اهميت درک کړی و. همدا لامل و چې د دې لارې جوړېدو ته يې متې رابډوهلې او دا دی اوس دغه لار د چين تر پولې پورې جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شـــوه. د اسلامي امارت مســـوولينو د واخان د لارې اهميت ته په کتو ويلي دا لار به نه يوازې دا چې د واخان ولســـوالۍ اوسېدونکو په ځانګړي ډول د پامير خلکو له پاره د تګ راتګ برخه کې ډېرې اســـانتياوې برابرې کړي، بلکې په راتلونکي کې به د افغانســـتان او چين ترمنځ يوه مهمه او ستره ترانزيټي لاره هم شي. د واخان لارې له جوړېدو وروسته د هغې په فعالېدو سره به د افغانســـتان سوداګري پراختيا ومومي او پر مټ به يې هېواد د چين په ګډون د نړۍ له يو زيات شمېر هېوادونو سره ونښلول شي. د دې نښـــلون په مرسته به د هېواد اقتصاد پياوړی شي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابوحنيفه (رح) پنځم عمومي او نړيوال نندارتون پرانيست



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۵ لمريز کال د تلې مياشتې په ۱۵مه نېټه، په کابل کې د افغانستان نړيوال نندارتون مرکز کې د امام ابوحنيفه (رح) پنځم عمومي او نړيوال نندارتون پرانيست. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نندارتون د پرانيستې مراسمو ته په وينا کې وويل، چې د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې لازمې اسانتياوې رامنځته، د سوداګرو پر وړاندې خنډونه راکم او د خصوصي سکتور لپاره مناسب چاپېريال رامنځته کړي، ځکه د خصوصي سکتور مشارکت د اقتصادي ودې لپاره اساسي اهميت لري. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د امام ابو حنيفه (رح) پنځم عمومي او نړيوال نندارتون د افغانستان د اقتصادي ظرفيتونو د معرفي، د کورنيو توليداتو د ملاتړ، د سوداګريزو اړيکو د پراختيا او د افغانستان او سيمې ترمنځ د مستقيمو سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا په برخه کې يو مهم اقدام ګڼل کېږي. محترم ملا صاحب زياته کړه، نننۍ نندارتون د سوداګريزو محصولاتو او توليداتو په برخه کې د افغانستان بالقوه ظرفيتونه په سمه توګه معرفي او د افغانستان د توليدي، زراعتي، صنعتي محصولاتو، وچو او تازه ميوو لوړ کيفيت ته په کتو به له هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو په پياوړتيا کې مهم رول ولوبوي او د افغانستان محصولاتو ته به سيمه ييز او نړيوال بازارونه پيدا کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل :«د سيمې او نړۍ هېوادونو ترمنځ سوداګريز مناسبات او اړيکې د تجارت په يو مهم اصل يعنې نسبي او مطلقو امتيازونو ولاړې دي، ترڅو د نړۍ هېوادونه د مختلفو توليدي محصولاتو، صنايعو او تکنالوژۍ په برخه کې خپلې نسبي او مطلقې اړتياوې له دې لارې په سمه توګه پوره کړي.» د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په وينا، په سيمه ييز او نړيوال تجارت کې د نړۍ هېڅ هېواد ته په کمه سترګه نه کتل کېږي، ځکه چې هر هېواد د توليداتو او محصولاتو په برخه کې يا نسبي او يا هم مطلق امتيازونه لري، چې دا چاره د سيمه ييز او نړيوال تجارت اساسي اړتيا او لامل ګڼل کېږي. محترم ملا صاحب په خپله وينا کې وويل، د افغانستان اسلامي امارت نه يوازې د اقتصادي ودې او پراختيا په برخه کې نيمګړې فصلونه تکميلوي، بلکې د اقتصادي بنسټونو د رغونې په برخه کې يې په کمو امکاناتو سره داسې نوي فصلونه شروع کړي دي، چې د هېواد موجوده او راتلونکي نسلونه به پرې افتخار کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل:«د واخان اقتصادي او سوداګريز سرک پرانيستل سو، دا سړک چين د افغانستان له لارې د اروپا له بازارونو سره تر ټولو په لنډه لار نښلوي او افغانستان د سيمه ييز ترانزيټ او سوداګرۍ په يو مصروف مرکز بدلوي، چې د حق العبور عايد ترڅنګ به په دې مسير کې په تدريجي ډول سترې او مهمې زيربناوې ورغول سي.» د امام ابوحنيفه (رح) نندارتون په مراسمو کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال څرګنده کړه چې د سيمه ييز اتصال په برخه کې د اسلامي امارت هڅې د دې ښکاره ثبوت دی، چې موږ خپل سرحدونه د تهديد پر ځای د ستراتيژيک اقتصادي مشارکت د وصل په نقطو بدلوو او دا زموږ د لومړيتوبونو په سر کې قرار لري. د امام ابوحنيفه (رح) پنځم عمومي او نړيوال نندارتون کې په بېلابېلو برخو کې سلګونو کورنيو او بهرنيو شرکتونو په شاوخوا ۶۰۰ غرفو کې د خوراکي توکو، درملو، لبنياتو، ساختماني توکو، لاسي صنايعو، غاليو، پلاستيک، اوسپنې ويلې کولو او ګڼو نورو برخو کې خپل صنعتي توليدات او کرنيز محصولات ننداري ته وړاندې کړي دي. ياد نندارتون به اووه ورځې دوام وکړي.

## په اسلام کلا بندر کې د لس زره ټنه په ظرفيت د نفتو او ګازو د زېرمو جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د ميزان مياشتې په اوومه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د هرات ولايت په اسلام کلا بندر کې د نفتو او ګازو د تخليې او بارګيرۍ تأسيساتو جوړولو طرحه وړاندې شوه، چې له هر اړخيز بحث وروسته د تاييد وړ وبلل شوه. د دغې طرحې له مخې به خصوصي سکتور په اسلام کلا بندر کې د لس زره ټنو په ظرفيت د نفتو او ګازو زېرمې او نور اړوند تأسيسات جوړ کړي. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د نفتو او ګازو سوداګرو ته په هېواد کې د ننه اسانتياوې برابرې، لګښتونه به يې کم او شاوخوا درې زره هېوادوالو ته به د کار زمينه هم برابره کړي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنۍ
ابادي
پنځلس ورځنۍ

## له تمويلوونکو او نړيوالو موسسو سره د پوهنې وزارت لومړيتوبونه شريک شول

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د عامه اړيکو رياست په مشرۍ د ۱۴۰۵ کال د ميزان مياشتې په شپږمه نېټه په مرمرينه مانۍ کې د تمويلوونکو، نړيوالو موسسو، ملګرو ملتونو او پراختيايي شريکانو له استازو سره د افغانستان د سکتوري ادارو د لومړيتوبونو شريکولو دويمه غونډه جوړه شوه. په غونډه کې له تمويلوونکو او نړيوالو موسسو سره د پوهنې وزارت لومړيتوبونه شريک شول. دغه لومړيتوبونه د ښوونيزو مرکزونو د جوړولو او بيارغونې، د زده کړو کيفيت لوړولو، د ښوونکو مسلکي ظرفيت پياوړي کولو، د درسي نصابونو معياري کولو، د زده کوونکو لپاره د زده کړو مناسب او خوندي چاپېريال رامنځته کولو، په لرې پرتو سيمو کې زده کړو ته د لاسرسي اسانولو، د درسي کتابونو چاپ او توزيع او د ښوونيزو مرکزونو د تجهيزولو اړوند وو، چې د هېواد د واقعي اړتياوو پر بنسټ مشخص شوي، څو راتلونکي مرستې او پراختيايي همکارۍ تر ممکنه حده د همدې لومړيتوبونو په چوکاټ کې تنظيم او همغږې شي.



د تمويلوونکو بنسټونو او نړيوالو موسسو استازو د پوهنې وزارت د لومړيتوبونو شريکول خورا مهم وبلل او ويې ويل، چې په دې سره به دوی وکولای شي خپل راتلونکي فعاليتونه په ښه ډول منظم او تطبيق کړي. له تمويلوونکو او نړيوالو موسسو سره د افغانستان اسلامي امارت د سکتوري ادارو د لومړيتوبونو شريکول به لومړيتوبونه له منابعو، مرستې به له اړتياوو او پراختيا به له واقعي پاليلو سره منظم او همغږي کړي

## تدارکاتو کميسيون د څه باندې اووه ميلياره افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې کړې

تدارکاتو کميسيون د څه باندې اووه ميلياره افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې کړې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کميسيون نوبتي غونډه، د ۱۴۰۵ کال د ميزان په ۱۵مه نېټه، په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه. غونډې ته ۳۴ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې. له هراړخيز بحث وروسته د څه باندې اووه ميلياره افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې کړې او په نهو نورو پروژو کې لازم تعديلونه منظور شول. پنځه پروژې دويم ځلې داوطلبۍ ته وړاندې او درې پروژې اعاده شوې. د يوې پروژې قرارداد په کارونو کې د ځنډ له امله فسخه او شرکت يې د محروميت کميټې ته معرفي شو. په منظور شويو او تعديل شويو پروژو کې د هرات د اسلام کلا د سرحدي ګمرک د پارکينګ د کانکريټ اچول، د کابل ولايت بادام باغ تحقيقاتي باغ ته له قرغې بند څخه د اوبو د پايپ تېرول، د لوګر ولايت د محمد اغې ولسوالۍ له ابازک څخه تر سياه‌بيني کلي پورې د ۱۱ کيلومتره اسفالټ سړک جوړول، د بدخشان واخان ولسوالۍ له بروغيل څخه تر بزای ګنبد پامير خورد پورې د ۷۱ کيلومتره سړک د بيارغونه، د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د اړتيا وړ ټکنالوژيکو وسايلو چمتو کول او تدارک، د کابل ښار په ختيځ کې د ترمينل جوړول، د باميان په کهمرد ولسوالۍ، د فارياب په لولاش ولسوالۍ او د پکتيکا په ارګون ولسوالۍ کې د عمومي روغتونونو جوړول، د هلمند ولايت د بست ۳۵۰ بستريز روغتون جوړولو، د روغتيايي وسايلو او برېښنا اړوند وسايلو چمتو کول، کابل کې د غازي ستيډيوم څخه تر سيمنټ خانې پورې د سړک جوړول، کمپنۍ ساحه کې د سړک جوړول او له سپين کلي څخه تر قلعه وزير پورې د دويم لين سړک جوړولو پروژې شاملې دي. منظورې شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمويليږي.



ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصـــادي او ټـولنيـــزو مسايلـــو په بـــرخه کـــې
د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي معاونيت پنځلــس ورځنۍ



ابادي
پنځلــس ورځنــۍ

## اولویت‌های وزارت امور شهدا و معلولین با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی شریک گردید

بــه رهبری ریاســت ارتبــاط عامــه معاونیــت اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ هشتم میزان ۱۴۰۵ هجری شمسی، سومین نشست شریک‌ساختن اولویت‌های ادارات سکتوری افغانســتان بــا نماینــدگان تمویل‌کنندگان، مؤسســات بین‌المللی، ســازمان ملل متحد و شرکای انکشافی در قصر مرمرین برگزار شد. در این نشست، اولویت‌های وزارت امور شهدا و معلولین با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی شریک ساخته شد. این اولویت‌ها شامل رسیدگی به نیازهای عمده معلولین در سطح کشــور، ایجاد مراکز آموزشی برای آموزش‌های فنی و حرفوی برای معلولین و ورثه شهدا، تأمین مصؤنیت و پوشاک، اعمار سرپناه، فراهم‌سازی فرصت‌های تحصیلی و بورســیه‌ها و تجهیز مراکز توان‌بخشی معلولین، وزارت امور شــهدا و معلولین بود. این اولویت‌ها بر اساس نیازهای واقعی مشخص شده‌اند تا کمک‌ها و همکاری‌های انکشــافی آینده تا حد امکان در چارچوب همین اولویت‌ها تنظیم و هماهنگ شوند. نمایندگان نهادهای تمویل‌کننده و مؤسسات بین‌المللی، شریک‌ساختن اولویت‌های وزارت امور شــهدا و معلولین را بسیار مهم دانسته و اظهار داشتند که با این کار می‌توانند فعالیت‌های آینــده خود را در پرتو همین اولویت‌هــا تنظیــم و تطبیــق نماینــد. شریک‌ســاختن اولویت‌های ادارات ســکتوری امارت اسلامی افغانستان با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی، اولویت‌های کشور را با منابع، کمک‌ها را با نیازها و توسعه را با نتایج واقعی تنظیم و هماهنگ خواهد ساخت.



# رهنمود سرمایه گذاری

بخش ٦

## فرصت‌های سرمایه‌گذاری در بخش تعلیم و تحصیلات عالی

افغانستان با داشتن موقعیت جغرافیایی استراتیژیک، منابع طبیعــی فــراوان و امکانات بالقــوه سرمایه‌گــذاری، در بخش‌های مختلــف فرصت‌های مناســب و خوب برای سرمایه‌گذاری دارد. یکی از این بخش ها، بخش تعلیم و تحصیلات عالی است. تعلیم و تحصیلات عالی از پایه ها و اساســات مهم رشد اجتماعی و توســعه اقتصادی یک جامعه به شمار می رود و نقش بنیادی در رشــد اقتصادی، ارتقای ظرفیت نیروی بشری و تأمین ثبات و عدالت دارد. باز ســازی و ایجــاد نهادهای تعلیمــی و تحصیلی برای پیشرفت و آینده بهتر کشور از اهمیت خاص برخوردار است. فرصت های سرمایه گذاری در بخش تعلیم و تحصیلات عالی به شرح ذیل می باشد:

۱- سرمایه گــذاری در ایجاد و توســعه زیربناهای تعلیمی و تحصیلی؛

۲- سرمایــه گــذاری در ارتقای ظرفیــت نهادهای تعلیمی و تحصیلی؛

۳- سرمایه گذاری در توســعه آموزش های مسلکی و تخنیکی؛

۴- سرمایه گذاری در بخش تحقیقات و نو آوری؛

۵- سرمایه گذاری در توسعه تکنالوژی تعلیمی؛

٦- و سرمایه گذاری در ایجاد نهادهای تحصیلی به منظور تحصیلات عالی.

تمامی سرمایه‌گذاران می‌توانند به منظور سرمایه‌گذاری در بخش‌هــای یادشــده، طرح‌های خــود را به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی تحت چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء ارائه کنند.





# د امام ابوحنيفه (رح) پنځم عمومي او نړيوال نندارتون پرانيستې ته
# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وينا

الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذين اصطفی، اما بعد!

فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم،

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالی: وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا

د افغانستان اسلامي امارت محترمو مسؤلينو، مجاهدينو، د سوداګرۍ او پانګونې خونې مشرانو، د بهرنيو او کورنيو توليدي شرکتونو استازو، د دوستو هېوادونو سفير صاحبانو او ډيپلوماتيکو استازو، د ملګرو ملتونو او نړيوالو ادارو استازو ، تجارانو، پانګه والو، د رسنيو استازو او محترمو

**ميلمنو ته؛**

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

هيله ده ټول به روغ او جوړ ياست.

خوښ يم چې د هېواد د اقتصادي ودې او د توليدي محصولاتو د معرفي او بازار موندنې په موخه د امام ابوحنيفه (رح) په پنځم عمومي او نړيوال نندارتون کې ګډون کوم.

**محترمو حاضرينو؛**

دا روښانه ده، چې د سيمې او نړۍ هېوادونو ترمنځ سوداګريز مناسبات او اړيکې د تجارت په يو مهم اصل يعني نسبي او مطلقو امتيازونو ولاړې دي؛ ترڅو د نړۍ هېوادونه د مختلفو توليدي محصولاتو، صنايعو او تکنالوژۍ په برخه کې خپلې نسبي او مطلقې اړتياوې له دې لارې په سمه توګه پوره کړي. په سيمه ييز او نړيوال تجارت کې د نړۍ هېڅ هېواد ته په کمه سترګه نه کتل کېږي، ځکه چې هر هېواد د توليداتو او محصولاتو په برخه کې يا نسبي او يا هم مطلق امتيازونه لري، چې دا چاره د سيمه ييز او نړيوال تجارت اساسي اړتيا او لامل ګڼل کېږي. د امام ابو حنيفه رح پنځم عمومي او نړيوال نندارتون د افغانستان د اقتصادي ظرفيتونو د معرفي، د کورنيو توليداتو د ملاتړ، د سوداګريزو اړيکو د پراختيا او د افغانستان او سيمې ترمنځ د مستقيمو سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا په برخه کې يو مهم اقدام ګڼل کېږي. د خصوصي سکتور مشارکت د اقتصادي ودې لپاره اساسي اهميت لري او له همدې امله اسلامي امارت هڅه کوي چې د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې لازمي اسانتياوې رامنځته، د سوداګرو پر وړاندې خنډونه راکم او د خصوصي سکتور لپاره مناسب چاپېريال رامنځته کړي. نننی نندارتون د سوداګريزو محصولاتو او توليداتو په برخه کې د افغانستان بالقوه ظرفيتونه په سمه توګه معرفي کولی سي. د افغانستان توليدي، زراعتي، صنعتي محصولاتو، وچو او تازه ميوو لوړ کيفيت ته په کتو دا ډول نندارتونونه کولی سي چې له هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو په پياوړتيا کې مهم رول ولوبوي او زموږ کورنيو محصولاتو ته سيمه ييز او نړيوال بازارونه پيدا کړي.

**قدرمنو حاضرينو؛**

د افغانستان اسلامي امارت نه يوازې د اقتصادي ودې او پراختيا په برخه کې نيمګړې فصلونه تکميلوي، بلکې د اقتصادي بنسټونو د رغونې په برخه کې يې په کمو امکاناتو سره داسې نوي فصلونه شروع کړي دي چې د هېواد موجوده او راتلونکي نسلونه به افتخار په کوي. تاسې خبر ياست چې څو ورځې وړاندې د واخان اقتصادي او سوداګريز دهليز پرانيستل سو؛ دا دهليز چين د افغانستان له لارې د اروپا له بازارونو سره تر ټولو په لنډه لار نښلوي او افغانستان د سيمه ييز ترانزيت او سوداګرۍ په يو مصروف مرکز بدلوي؛ چې د حق العبور عايد ترڅنګ به په دې مسير کې په تدريجي ډول سترې او مهمې زيربناوې ورغول سي. د سيمه ييز اتصال په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت دا ډول هڅې د دې ښکاره ثبوت دی، چې موږ خپل سرحدونه د تهديد پر ځای د ستراتيژيک اقتصادي مشارکت د وصل په نقطو بدلوو او دا زموږ د لومړيتوبونو په سر کې قرار لري. په پای کې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له محترمو مسؤلينو او نورو همکارو اړخونو څخه مننه کوم، چې د نندارتون چارې يې تنظيم کړې دي. هيله لرم چې دا ډول نندارتونونه به د هېواد د اقتصادي ودې او د سوداګريزو مناسباتو او اړيکو په پياوړتيا کې نوی باب پرانيزي.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۴,۸۰؋ | ۶۴,۸۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۹؋ | ۲۳۰؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۲۴؋ | ۰,۲۵؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۳,۳۰؋ | ۷۳,۴۰؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۷۶؋ | ۰,۷۶؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۴۷؋ | ۷۴۸؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ۸۵,۲۰؋ | ۸۵,۵۰؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۷,۲۸؋ | ۱۷,۳۰؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷,۶۴؋ | ۱۷,۶۶؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۶۷؋ | ۹,۶۷؋ |

